

# سېد بلال شاه

# یو نهٔ هېرېدونکے پښتون

اداره

دا د خالي ورځ او یوویشتم جون ؤ. ما چې اخبار پرانستو د سېد بلال شاه تصویر مې ولیدو او ورسره مې د هغهٔ د مرګ خبر ولوستو نو سترګې راباندې توري توري شوې. په هم دغه هفته کښې هغهٔ ماله د باچاخان مرکز د دوېم چت د پوړو سره مخ له راغے. د خبر په خبر نه پس ئې راته په خندا خندا ووې: سائل صېب! زهٔ لا ستوډنټ وم چې په وړومبي ځل ستا شاعرۍ زما توجه دې طرف ته راواړوله. هغه په صوابۍ کښې د یوې جلسې حواله راکړه بیا ئې ووې زهٔ به اوس په باقاعده ډول "پښتون" ته لیکل کووم. نو تهٔ راته ووایه چې زهٔ درله په کومه موضوع ولیکم.ما وې تهٔ په کومه موضوع لیکلے شې، هغهٔ ووې زهٔ په هره موضوع لیکلے شم. دا ئې هم راته ووې چې بس تهٔ ماته قلم کاغذ حواله کړه او د ناستې یو ځائے راته وسپاره. موضوع تهٔ راکوه اولیک به پرې زهٔ کوم. د دغسې راست بازۍ نه پس د یوې رسالې د چلوونکي د خوشحالۍ حدونه د کتو وې. ړوند د خدایه څهٔ غواړي خو دوه غټې غټې سترګې. هغهٔ ماته په شهباز اخبار کښې د خپل کار او لیک قصه تېره کړه او زما خوشحالي ئې نوره سبوا کړه. د شورو په ورځ زهٔ د یو سوال جواب په غرض د تاج الدین خان دفتر ته ورغلم څوک چې اوس د اې این پي صوبائي جنرل سکرټري دے، یو ساعت پس حمید الرحمان محمدزئے هم راغے کوم چې د ثقافت جنرل سکرټري دے او څهٔ ساعت پس ارباب طاهر صېب هم راغے چې د اطلاعاتو سکرټري دے او په دې کښې سېد بلال شاه هم راښکاره شو څوک چې دغه وخت د اې این پي د ثقافت مرکزي سکرټري ؤ. زما په زړهٔ کښې دا خبره تېره شوه چې دلته خو تقریباً د دې یو څو کسو په شکل کښې ټوله پارټي موجودګي لري. بلال شاه د لږ ساعت د پاره بهر ته ووتو او بیا راغے کښاستو ماته مخاطب شو وې چې ستا شعرونه مې ډېرې ورځې نهٔ دي اورېدلي په ما خوله راغله غم شو راسره ما وې کهٔ دلته راته د شعرونو اورولو فرمائش کوي خو هغه په لنډو ووې بس یو شعر راته ووایه کهٔ درته یاد وي هله. د هغهٔ د یوشعر په فرمائش کښې ډېر خواږهٔ درانهٔ او مینه نغښتې وه او زما خدائے وار سم کړو ما وې یو شعر راته یاد شو او بغېر د څهٔ چون چرا نه مې پېش کړو:

غم دا نهٔ دے کهٔ نن د مرګ او ژوند په برید ولاړ یم
غم دا دے چې د دې خبرې غم راسره نشته

هغه د جېب نه یوه وړه ډائري رابهر کړه، وې دا راته ولیکه او ما ورته ولیکهٔ.

ما د شعر نه د خبرې اړولو په غرض هغهٔ ته ووې هغه مضمون به راته کله لیکې، هغهٔ وې چې کله تهٔ غواړې؟ زهٔ لا په دې رساله کښې د هغهٔ د مضمون په طمعه وم او تلوسه مې هم وه ورته خو ما

تـه دهغـهٔ پـه سـنجيدګۍ د کـار يوسـړے ضـرور ښکاربېدو. د هغهٔ د خبرې خبرې نه به د هغهٔ د رښتينو جذبو داسې اظهار کېدو چې زهٔ به ورته خفه شوم.

زهٔ نهٔ وم خبر چې په کومه رساله کښې زهٔ د کوم نوي ليکوال د ليک د شايع کولو په طمعه وم، په هغې کښې به زهٔ د هغهٔ د مرګ په خبر ورکولو مجبورېږم.

يو ساعت پس په دوه شاپنګ بېګونو کښې څهٔ ډېر راغلهٔ او ورسره پلېټونه هم وو، دا ماته د باچاخان مرکز د روايا تو نه لرې او بې وخته خبره ښکاره شوه خو چې هغه ډېر ئې وسپړل نو پکښې ملائي وه.

بلال شاه ووې چې يو خو ګرمي ده او بل مې دا دلته ناست خلق چې وليدل نو ما وې چې نن به لږ په دې ګپ ولګوو او بيا د پښتنو په تحريک د باچاخان او ولي خان په سياست يوه دردناکه او مينه ناکه تبصره هغهٔ کوله چې پرې هر چا ورسره پکښې سر بچے اړ ؤ. د شلم جون دغه واقعه چې به د هر هر چا پـه زړهٔ لکـه د غشـي لګېـدلې وي. د پښـتـنو تحريک د يو خوږ دروند داسې ورکړ نه محروم شو چې د هغهٔ ځائے ډکول به هم ډېر مشکل کار وي. زهٔ چې د تېر ګل په ورځ واپس راغلم نو بيا کوزه راکوز شوم. په لاره کښې مې هم هغه ځائے ته بيا وکتل په کوم ځائے چې راسره بلال شاه څو خبرې کړې وې او پـه منډه منډه ئې راتـه د خپـل ژوند ټـول تـاريخ او خپلو جذبو خبرې په يو څو کرښو کښې داسې کړې وې لکه د هغهٔ د روح نه چې هم دغه ټپه اورېدې شوه چې: خبرې لنډې لنډې وايه

اوس به غماز د پاسه راشي چې پاڅونه

زهٔ لاړم، ما وې زهٔ به د بلال شاه تعزيت د خټک صـېب وکـړم خو د هغـهٔ سره مېلمانهٔ هم وو او تـاج الدين خان او ارباب طاهر هم هغوي ووې مونږ يو څو خبرې ځان له کوو نو بيا به تاسو ته وزګار شو. زهٔ حميـد الرحمان خـان د تـاج الـدين خـان دفتـر تـه راوستم، هلته هم ډېره ګڼه وه نو ما وې چې د بلال شاه په حق کښې به په شريکه يوه دعا وکړو او دعا مو وکړه.

بـلال شـاه د مـوټر پـه حادثـه کښـې پـه حـق ورسېدو. انا لله و انا اليـه راجعون. د هغهٔ په جنازه کښې د پښتونخوا د وزيراعلي اميرحېدرخان هوتي نه علاوه تقريباً ټولو اهم ايم پي ايز،ايم اين ايز د صوبې وزيرانو او په زرګونو ورکرانو شرکت وکړو.

بـلال شـاه د لـوئې خدائي خدمتګارې کـورنۍ سره تعلق لرلو. هغه پـه مختلفو وختونو کښې پـه مختلفو عهدو پـاتې شوے دے. دا وخت هغه د اې اين پي مرکزي سکرټري ثقافت ؤ.

د هغهٔ د اخلاص او فهم فکر او ليک نه مونږ هم محروم پاتې شو او تحريک تـه هم يو لوئے زيان ورسېدو. خو د وياړ ځائے دا دے چې هغه ډېر په مړانـه او ډېر استقامت ترمرګـه مرګـه خپـل کـار او جدوجهد جاري ساتلے ؤ. په خپل قامي مشن کښې د هغهٔ برخه به تر عمره عمره د ټولو ملګرو په ذهن کښې وي او د هغهٔ ياد به تل ژوندے وي انشاءالله.

دا تحريـک د مسلسل جدوجهد دپـاره پـه وجـود کښې راغلے دے او زمونږ اميد دے چې د پښتنو هر زلمے به د سبا بلال شاه وي او خپله برخه به هم په دې جولۍ کښې وراچوي. تر هغې چې څو د دې وطن کاڼے کاڼے لُوټه لُوټه ګل نهٔ شي.